# د شلمې پېړۍ د پښتو شاعرۍ سياسي ماخذونه

# Political Origions of twentieth century Pashto Poetry

اصل مرجان (محب وزير*)
ډاکټر نور محمد دانش بېټنى*

Abstract:

Twentieth century has been one of the most revoltionizing period in the evolution of human civilization. In the wake of diverse resistance movements against the colonial rule the three colonized continenets, rendered sociopolitical and scholastic awakening in the subject societies. The study of Pashto literature also witness a paradigm shift in all matters due to the overwhelming political struggle and innovative and nonviolent resistance movements. In this paper, the scholar has shed light on the political impulses that has reasonated in the rhythmic form of Pashto poetry.

د ټولو د مخه بايد مونږ د سياست معنا ، تعريف او مفهوم واضحه کړو د سياست معناوې او تعريفونه، مفاهيم او روايتونو باندې يو اجمالي نظر واچوو.

د سياست معنا او تعريف د اسلامي دايرة المعارف په حواله داسې شوى دى:

"د کوم هېواد دولتي نظام، د هېواد چلولو چوکاټ، د حکمرانۍ طور او طريقه، د حکومت احتساب ، د حکومت کولو د پاره حکمتِ عملي او د کوم جرم سزا ، سختي، ويېره، قار او غصه، جسماني يا روحاني درد يا چالاکي، يو بل نه مخکښې کېدل، هوښياري، چل جوړول، برابري او انصاف. د رياست او وګړيو تر منځه تعلقات ، د رياست د نورو رياستونو سره تعلقات، د رياست په وګړيو په خوښه يا په زور منل او د رياست د بقا د پاره د نورو رياستونو سره د جنګ حکمت عملي وضع کول".(۱)

دا ټول توکي د يو نظام د چلولو د پاره ضروري کېږي. کله پکښې د نرمۍ نه کار اخستل کېږي او کله پکښې سختي کېږي. کله د يو بل نه مخکښې کېدو عمل راځي او کله بيا يو نيم قدم په شا کېدل هم راځي، خو دا هر څۀ د اولس د

---

* Lecturer, in Pashto Government Degree College kotka Habibullah F.R. Bannu
* Assistant Professor, Pashto Academy, University of Peshawar

ګټو او اسانتیاو د پاره کیږي. د یو هېواد د چلولو دود دستور او انتظام چې د اولس د خېر او ښېګړې پوره پوره خیال په کښې ساتلی شوی وي او د اولسي عدل او انصاف په اصولو ټینګ وي او د اصولو یا دود او دستور د عملي کولو په لاړ کښې د موجودو ټولو خنډانو د لر کولو د پاره د سختۍ او زورګیرۍ نه هم کار اخلي". (۲)

مقصد دا شو چې د سیاست بنیادي موخه په یو ریاست کښې اوسېدونکیو ته د ګټو او اسانتیاو رسولو د پاره لارې چارې جوړول دي. په نورو ټکیو کښې د سیاست معناوې داسې هم کېدی شي.

د شلمې پېړۍ په ادب کښې (د هرې اسلامې ژبې په خصوصي توګه اردو ادب کښې هم) د سیاست معنا هغه هلې ځلې دي چې یو هېواد کښې د دولتي نظام په یو خاص طرز راوړل، د هغې د پاره د انتظامي ډهانچې تشکیل کول او د هغې د مرستې یا مخالفت په ترڅ کښې یو حتمي لائحه عمل تیارولو په صورت کښې مونږ ته ښکاري. په لوړه کچه د دې معنا د دولتي تنظیمونو او ادارو تشکیل کول دي. علم السیاسة (یا علمِ سیاسیات) هغه علم دی چې د دغو هلو ځلو د پاره بنیادي اصول جوړولو په اړه بحث کوي.

مونږ په دا نتیجه رسو چې سیاست د وطن، خاورې او سیمې د اولس په ستونزو د ځان پوهونې نوم دی. سیاست د وطن، خاورې او سیمې د اولس د ستونزو د هوارولو د پاره د لارې لټولو نوم دی. سیاست د اولسي خېر ښېګړو او خذمت نامه ده او سیاست په حقه د خدایي خدمتګارۍ نامه ده.

هر کله چې د نړۍ په مخ د ریاست نوم او نخښه نۀ وه او انساني ټولی په بېلابېلو ټولنو او ټولګو کښې سره تقسیم ؤ، نو د سیاست نوم هم وۀ او کردار یې هم ؤ. هغه ټولنو کښې هم چې سردارانو یا د ټولنو نورو مشرانو د ټولنې د مفادو او ودې د پاره کوم اقدامات کول یا یو سردار چې د بل سردار نه د وړاندې کېدو د پاره کومې حربې کارولې، نو هم یې د ټولنیز تدبر او پوهې نه کار اخستلو چې د سیاست په معنو کښې اخستل کیږي.

د زوړ انساني تاریخ یا زړو انساني ټولنو کښې د سیاسي روایت نه را په دېخوا چې کله ټولنیزه فلسفه په وجود کښې راغله، نو سیاست یا سیاسي فلسفې د انساني ټولنې د ستونزو په هوارۍ کښې مهم کردار لوبولی دی. په دغه

لړ کښې ترټولو وړاندې مونږ د سقراط نوم اخستی شو، هغهٔ په يو رياست کښې د ښهريانو د حقونو او د حکمرانانو د فرايضو په اړه د بحث اغاز کړی دی او د سقراط نه پس افلاطون او ارسطو هم د سقراط خوارهٔ وارهٔ بحثونه په وړاندې بوتلي دي او نور يې زيات منظم کړي دي. افلاطون خو باقاعده د يو رياست هغه ټول خدوخال په ګوته کړي دي چې ښخي ورته يو نوی رياستي چوکاټ وئيلی شو"(۳).

د سکندر اعظم د مرګ نه پس چې په يورپ د تور دور راج خور شو، نو فلسفه او علم هم مخ په زوال شول. د علم او فلسفې نمر بيا د عربو د سيمې نه وليدی شو. دا خبره مسلم ده چې د اسلام د راتګ سره يو ځل بيا د علم او فلسفې دروازې خلاصې شوې. مسلمانانو مفکرينو د يونان کلاسېکي فلسفه د ژباړنو په واسطه عربۍ ته واړوله. مسلمانانو مفکرينو کښې الفارابي، امام غزالي، ابنِ خلدون او شاه ولي الله زيات شهرت لري. چا چې د يو اسلامي او جديد رياستي نظام په وضع کولو باندې کار کړی دی او په دغه لړ کښې هر يو مفکر ځان ته يوه ځانګړې سياسي فلسفه درلودلې ده.

څوارلسمه او پنځلسمه عيسوي پېړۍ ته د يورپ نشاةِ ثانيه وئيلی کېږي. په دغه دور کښې چې د اسلامي مفکرينو اثار او افکار په يورپي ژبو کښې وژباړل شول، نو يورپ کښې نوې فلسفې خپلې جرړې ټينګول شروع کړل. دارنګې جديد سياسياتو وده ومونده. ميکياوېلي، مارټن لوتهر، جان لاک، والټيئر، ژان ژاک روسو، ايمانوېل کانټ، کارل مارکس او يو شمېر نور داسې سياسي او سماجي سائنسدانان مخې ته راغلل چې نن ګړده نړۍ د دوي په وضع کړيو سياسي او جمهوري انداز د رياستونو د چلولو نهٔ صرف عزم او اراده کړې ده، بلکې عملاً پرې روان هم دي.

د پښتنو سياسي روايت په لړ کښې د شېرشاه سوري، پيرروښان، خوشحال خان خټک، ميروېس خان، احمد شاه ابدالي، باچاخان، خان شهيد عبدالصمد خان اڅکزی او نورو سياسي مبارزينو ذکر کېدی شي او په دې نتيجه رسو چې د پښتنو سياسي روايت کمزوری ښخي نهٔ دی. د خوشحال خان خټک د مطالعې په دوران کښې مونږ ته دا ادارک کېږي چې د جديد قامي رياست او

جمهوري طرز حکمرانۍ تصور د خوشحال نه وړاندې په نړیواله سویه څهٔ وو ایـو که وموندی شي.

"پـــه یـــوه ژبـــه وئیـــل ســـره پښـــتو کـــړو
ولـــې هـــیڅ څبلـــه نـــه شـــو خبـــردار"(4)

"درســـت پښـــتون لـــه قنـــدهاره تـــر اټکـــه
ســـره یـــو د ننـــګ پـــه کـــار پـــټ او اشـــکار
اولســـونه چـــې ســـند یـــو تربلـــه وکـــا
بادشـــاهان ورتـــه ســـج..ود کانـــدي اختیـــار" (5)

"د مانځـــهٔ تـــر قضـــا ګرانـــه دا قضـــا ده
چـــې قضـــا شـــي د ځلـــورو مصـــلحت
نـــوراني کـــا هغـــه ځـــای چـــې ســـره کښـــېني
دېرینـــه ځلـــور هوښـــیار پـــه مشـــورت" (6)

د شلمې پېړۍ د شاعرۍ ذکر چې کوو، باید چې د ازادۍ د تحریک اولني څرکونو ته هم ځان ورسوو. د سیکه والۍ او بیا د پېرنګوالۍ په ضد چې د پښتنو مبارزینو کوم خور وور جدوجهد ؤ او د هغې په ترخ کښې مقامي شاعرانو د چاربېتو او کسرونو په اصنافو کښې کومه شاعري کړې ده. د هغې مثال دغه چاربېته کښې مونږ وینو چې د قامي او مذهبي جذبې نه ډک پښتنو زلمیو د کارنامو بیان په څومره زور او شور کوي - دا چاربېته چې "د بونېر د جنګ چاربېته" په نوم ډار مستېر په خپل کتاب کښې شامله کړې ده او لیکونکی یې "وایي نور شالي" نه د نور شعل په نوم پېژندلی شو - چاربېته څهٔ داسې ده:

"لـــه هنـــده دی راغلـــی پـــه غـــزا پســـې ســـفر کـــا
لـــه هنـــده دی راغلـــی خـــو وطـــن یـــې برېلـــی

ټکـر لـه ورلـه راغـی سـوات صـاحب ډېـر پـه شـتاب
دېـــره پـــه امبېلـــه وهٔ پکښـــې نـــهٔ وایـــم کـــذاب
لنګـر یـې جـاري کـړی ښـې نـرۍ وریجـې کبـاب

خـوراک وۀ د غازيـانو دروغ نـۀ وايـم بـاور کـا
لــه هنــده دی راغلــی خــو وطــن یــې برېلــی

کســکر یــې فېرنګــی کــۀ پســې راغلــل بنېــروال
جلــئ بــه یــې وښــکي تــورې کــړې پــه منګــل ډال
شــاګرده غــوړ پــرې کېــږده درتــه وایمــه دا حــال
جاهـل بـه کـه قایـل نـن بـه خالي تـرې نه سنګر کـا
لـه هنـده دی راغلـی خـو وطـن یـې برېلـی" (۷)

هم دغې خورې ورې شاعرۍ د پېرنګي په ضد یو منظم تحریک ته بنیاد ورکړو چې پښتنو د خپلې ازادۍ یوه ټینګه او غښتلې مبارزه شروع کړه. کومه چې اول د تحریک اصلاح الافاغنه او بیا وروستو د خدایي خدمتګار تحریک په نوم وپېژندل شوه. خدایي خدمتګار تحریک یو داسې موړ ولیدی شو چې د پښتو د نوي ادب لاره یې متعین کړه او هم دغې ادب د ازادۍ تحریک ته یوه داسې دېکه ورکړه چې پېرنګیان یې په لندن ولګول. د خدایي خدمتګار تحریک تر سېورې لاندې شوې شاعرۍ کښې د وطن او خاورې مینه، د قام او ژبې مینه او د غلامۍ او ازادۍ په مضمونو بشپړه اثار په ګوتو راځي چې. مولانا فضل محمود مخفي، محمد اکبر بېنوم، محمد اکبر خادم، عبدالخالق خلیق، تورسم کاکا، عبدالمالک فدا، فضل احمد غر، عبدالاکبرخان اکبر او نور د یادولو وړ شاعران دي چې د ازادۍ سره سره یې د عدم تشدد د فلسفې په ترخ کښې یو سیاسي شعور اولس ته ورکړی دی. د خدایي خدمتګار تحریک مشرانو په پوره منصوبه بندۍ د پښتو ژبې د پرمختګ د پاره هلې ځلې کړي دي:

"زمونږ انجمن د پښتو د ترقۍ د پاره او د شاعرانو د خیالاتو بدلولو د پاره د مشاعرو انتظام وکړو او د ښو ښو نظمونو او بیتونو له پاره یې انعامونه مقرر کړل او په کال کښې یو ځل چې د مدرسې کالیزه جلسه به کېده ورسره د مشاعرې د پاره به هم انتظام کېدو. د دې په وجه په پښتنو شاعرانو کښې یو عظیم الشانه انقلاب راغی او د خط و خال په ځای د اتفاق او ورورولۍ او قومي ترقۍ دور شروع شو"(۸)

په دې لړ کښې مونږ د ځنو خدايي خدمتګارو شاعرانو ځنې نمونې د مثال په توګه وړاندې کوو:

"د سرحد صوبه به هم يو ګلستان شي
که زلمي چرې په خپل وطن قربان شي
که زلمو د ازادۍ قدر معلوم کړو
خپل وطن به ورښکاره لکه زندان شي
په دې ژوند د غلامۍ به شي پښېمانه
ک.ه حقوق ورته معلوم د کل انسان شي
چې د خپل وجود اختيار يې په لاس نۀ وي
په تش نوم به څۀ امير شي څۀ به خان شي"(9)

د پاکستان د جوړېدو نه پس ته د پښتو د نوې شاعرۍ زيات رجحان قامي مسئلو ته را واوړېدو. دغه ملک جوړ شو، خوا او شا ټولو خلقو د ازادۍ په ترڅ کښې خپلې خوشحالۍ نمانځلې، ولې پښتنو د دغې ازادۍ نه څۀ ګټه ترلاسه نۀ کړه. په دوي بيا هم هغه د پېرنګي د وخت ظلمونو او قدغنونو دوام ولرلو. د دوي قامي وسايل د وفاق په نوم غصب کړل شول. دوي ته په حکمرانۍ کښې څۀ خاص برخه ورنۀ کړل شوه او د قصه خوانۍ د پېښو په رنګ ورباندې د بابړې واقعات نازل کړل شول. دغو ټولو واقعاتو او پېښو او حالاتو پښتانۀ سياسي نمايندګان د وفاق ضد په سياست باندې مجبور کړل. د خپلو سياسي رهبرانو سره د پښتو د شعر او ادب نمايندګي هم څنګ په څنګ اودرېدل. په پښتنو د روا کړي ظلم نه يې ډېر په نره سره پرده پورته کوله. په دغه جرم کښې دوي د سختو حالاتو سره هم مخ شوي دي او د قيدونو او بندېزونو لړۍ سره هم مخ شوي دي. مونږ په دغه ضمن کښې د جديدې شاعرۍ نه د څو نمايندو شاعرانو حوالې راخستې دي، ولې دغه موضوع د پښتنو شاعرانو په رګونو رګونو کښې ننوتې ده. د هر پښتون شاعر سره دغه قسمه مواد ښۀ پرېمانه موندل کيږي. لاندې مونږ صرف د څو نمائينده شاعرانو د شعرونو په حوالو اکتفا کوو:

"ګلونه کوم دي سور انګار دی چې پرې وغولېدۀ
يه سرو ! دا هم څۀ بهار دی چې پرې وغولېدۀ

پـوي هـم پـرې نـۀ شـوئ تېزنـدی مـو درپـه غـاړه شـوله
تاسـو هـم دا ګـېـل يـو هـار دی چـې پ.رې وغولېـدئ"(10)

"د ګـل رګونـو کښــې چـې ژونـد اوسـېږي نوراوسـېږي
يـا د انګــور غنچــه کښــې مينــه او ســرور اوســېږي
ښــکلي هېـواد کښــې د پښــتون دغســې ژونـد غــواړم
مينــه، ښائســت او ورورولـی ډکــې د خونـد غــواړم
دا مــې منــزل، دا مــې جنــت دی، ور روان يــم ورتــه
نـۀ پـه مـلا يـم، نـۀ پـه خـان يـم، نـۀ پـه ځـان يـم ورتـه
چــې هــر عــذاب وي دغــه لاره کښــې لــذت دی راتــه
کـه سرې لمبې شي د چا مينـه کښې جنت دی راتـه" (11)

"د جومات امـام عـرب دی، پـه مکتب کښې دهلي وال دی
يو استاد راته پيدا کړئ، خو پښتون راتـه پيدا کړئ "(12)

"روهســتان بانـدې چـې لـړې د اټـک لـه لـوري راشـي
پـه اسـمان د پښـتونخوا چې هم تنا شي هم برېښـنا شي
بدلېــدونکی پــه دوزخ چــې دا جنــت د پښــتونخوا شــي
چې مومنـد خټـک يـو ځـای شي اپريـدي يې همنـوا شي
چـې وطـن ابـمـل شي پښـتونخوا دريـا دريـا شـي
د خوشــحال خټــک ملګــرو! زۀ تقليــد خــو بــه کومــه
زۀ تنقيد خو به کومه" (13)

د خپلواکۍ خبره چې کېږي، نو د اجتماعي ازادۍ سره سره د فرد د ازادۍ يو تصور هم مخې ته راځي. خو که وکتلی شي، د فرد ازادي هم د اجتماع نه لرې ببخي نۀ ده. ځکه چې فرد چې د کومې ازادۍ تصور لري، د هغې ګټې ټولنې ته خامخا رارسي. د فرد د ازادۍ تصور د فکر او رايې ازادۍ پورې تړلې شوې ده. که څۀ هم د خپلې خاورې او خپل اختيار په ترڅ کښې هم مونږ د فکر او د رايې د بنديزونو خبره کوو، خو هغه بنديزونه خالص د رياست له خوا لګېدلي وو، ولې دلته چې مونږ د فکر او د رايې د ازادۍ خبره کوو، نو دغه اواز د ټولنيزو بنديزونو په ترڅ کښې راپورته شوی دی چې د مذهبي نمايندګانو پکښې

زيات کردار پاتې شوی دی. په دغه ضمن کښې د غني خان اواز تر ټولو درونډ دی. اشرف مفتون، فضل حق شيدا او نورو ورسره هم دغه اواز غبرګ کړی دی. دوي دغه اواز د ملا، شيخ، ناصح او داسې نورو کردارونو په ضد پورته کړی دی چې د سماج د پرمختګ په لاره کښې خنډونه ګڼل کېږي.

"ستا کتاب په دې کښې څۀ وي لږ مې پوي که ملاجانه!
يا خو راشه ګوډ شروع که قلار کښېنه د اسمانه
يا خو تله مله نۀ ده، د جمات کره ډينګرې ده
يا خو تا څۀ اکوبکو ايجاد کړي دي د ځانه
وران او سم د بل د لاس دي که ده ورانه که ودانه
اوور او درد او ښاماران به چاپېره وي زمانه"(14)

عدم مساوات يوه نړيواله موضوع ده. د نړۍ هر سماج د تاريخ په هر دور کښې د عدم مساوات ښکار پاتې شوی دی. د غلام او اقا، محکوم او حاکم، مظلوم او ظالم، غريب او امير په نومونو دوه طبقې خامخا موجودې راغلې دي او د دغې دواړو طبقو ګټې وټې د يو بل په ضد څۀ چې د يوې طبقې ګټه د بلې طبقې په مرګ تمامېږي. دغو دواړو طبقو کښې ښکاره خبره دا ده چې بالادستي د اقا، حاکم، ظالم او امير پاتې شوې ده او غلام، محکوم، مظلوم او غريب تل د يو ټوک ډوډۍ د پاره خپله ټوله توانايي په داؤ لګولې ده.

د نړۍ د هرې ژبې د شعر په رنګ پښتو شاعرۍ کښې هم د دغو طبقو ترجماني او حقيقت نګارۍ رنګ او اهنګ موجود دی. د پښتو د کلاسيکي شاعرۍ نه پرته د شلمې پېړۍ د شروع په شاعرۍ کښې هم دغه موضوع په ښۀ واضح انداز کښې مخې ته راځي.

پښتون سماج هم د نړۍ نه بېله څۀ برخه نۀ ده، بلکې دلته عدم مساواتو يا سماجي تضاداتو د نورو په حساب لږ زيات رواج موندلی دی چې يو خوا په ټولنه د جاګيردارۍ او سرمايه دارۍ نيم نيم اثرات موجود دي، رياستي نظام مو هم په عدم مساواتو اډانه دی او د مذهب په نوم هم دغه څيز ته تقويت ورکړی شوی دی. په دغه ترڅ کښې د پښتو نوې شاعرۍ کښې ډېر موثر غبرګون موجود دی. دا غبرګون هم په مختلفو صورتونو کښې دی، ولې زيات موثر اواز پکښې د انجمن ترقي پسند مصنفين تنظيم سره وابسطه شاعرانو اوچت کړی دی. ترقي پسند

تنظیم د اردو په تناظر کښې پښتو شعر او ادب کښې هم پنجې مضبوطې کړې دي او باقاعده تنظیمي صورت کښې د کاکاجي صنوبرحسېن مومند د وخت راسې موجود راغلی دی. بل د عدم مساوات دا موضوع په دې وجه هم په پښتو شاعرۍ کښې خپلې جرړې ټینګې کړې چې په ګاونډ کښې د سوېت یونین په صورت کښې د مساواتو په نوم یو نظام رایج شوی وۀ او دوي هم دا خوبونه لیدل چې که پښتون سماج هم د دغه نظام د ثمراتو نه مستفید شي.

عدم مساوات موضوع د کارل مارکس د فلسفې نه عبارت ده. مارکسي فلسفې په خپل ځان کښې دومره وسعت او قوت پیدا کړی دی چې سماجي او قامي په دواړو محاذونو کښې د مساواتو تهیسس لري. نو د پښتو یو شمېر قام پرست شاعران هم د مارکسي فلسفې حمایت کونکي شول او د عدم مساواتو یا د سماجي تضاداتو خبره یې په واز کومي شروع کړه. دارنګې چې کوم مارکسي یا اشتراکي شاعران وو، هغوي هم د قامي محرومیو په ترڅ کښې د عدم مساواتو اواز شروع کړو. نو په دغه وجه دغه اواز غبرګ شو او په دوو محاذونو پورته شو چې ډېر توانا او مضبوط واورېدی شو. د څو ترقي پسندو شاعرانو د شاعرۍ څۀ حوالې رانقل کوو:

"خدایه! دا بازار تالاکړې په مغلو
د مفلس حسن په یو موتي چڼو ځي" (15)

"هر خوا ته چې ګورم لوږه تنده او افلاس ښکاري
خوار او پرېشان راته هر لور عوام الناس ښکاري
اهل راته لاندې او نااهل راته پاس ښکاري
ځېلې د امېد مړاوې، تازه راته د یاس ښکاري" (16)

"د یو ملا نه مې تپوس وکړلو
ما وې ملا صاحب! جنت به څۀ وي؟
هغۀ په ګېډه لاس وهل وئیل یې
"تازه مېوې او د شودو رودونه"
یو خان په لویه سجده پروت پاڅېدو
ما وې چې خان کاکا ستا څۀ رایې ده

خپلــه شــمله یــې ســم.وه وئیــل یــې
"د ســرو او ســپینو عنبــري کورونــه"

خــوا کښــې یــو ســترې ســپلې.دو ولاړ ؤ
مــا وې مــزدوره! تــهٔ جنــت پېژنــې؟
د خپــل تنــدي خولــه یــې وچــه کړلــه
"وې چــې مــړه ګېــډه خــوارهٔ خوبونــه"(17)

"تهٔ چې د خدای په بادشاهۍ کښې د کټ ځای نهٔ مومې
تــهٔ د ادم د حــوا لــور نــهٔ یــې خــوږې ماشــومې!
تـهٔ چـې د مـوږ لـه کلـي درومـې پـه کـوم لـور بـه درومـې
سـتا پـه نصـیب کښـې جـوړې دي دغـه خـوارۍ کوچونـه
ورځـه ورځـه پـه مـخ دې ښـه پـه مـخ دې زیـړ ګلونـه" (18)

د شلمې پېړۍ په شاعرۍ کښې د پښتونستان سیاسي تحریک هم یوه موضوع ده. دا مسئله د پښتنو په خټه کښې یا د پښتنو په ذهن کښې د هغې ورځې راسې پېوست شوه، کله چې برطانوي استعمار د پښتنو په وطن نهٔ صرف پونده ټینګه کړه، بلکې د خپل استعماري سلطنت د محفوظ ساتلو د پاره یې د پښتنو وطن په دوو غټو او واضحو برخو کښې سره تقسیم کړو. د برطانوي سامراج سلطنت چې کله په روس کښې د مزدورانو تحریکونو ارتقایي مزل ته کتل، نو هغوي د دغه تحریک نه یوه وېره محسوسوله او نهٔ یې غوښتل چې د هندستان په مغربي سرحد دې دوي ته د مزدورانو متوازي یو سلطنت قایم شي. د دې د پاره هغوي د پښتنو په سیمه ناتار جوړ کړی ؤ او پرله پسې یې د پښتنو قتل عام جوړ کړو. د دغه ناتار او د دغه قتل او مقاتلو له کبله اخرنۍ نتیجه دا شوه چې په دیارلسم نومبر کال ۱۸۹۳ء کښې د ډېورنډ کرښه په وجود کښې راغله او پښتانهٔ یې په دوو برخو کښې تقسیم کړل. نیم پښتانهٔ یې د هندوستان برخه وګرځول او باقي پښتانهٔ یې په لوی افغانستان کښې پرېښودل.

د پښتو په جدیده شاعرۍ کښې د پښتونستان تحریک د هندوستان د تقسیم نه وړاندې تحریک خو څهٔ چې تصور هم ډېر قوي نهٔ ؤ. څهٔ تتې تتې اشارې مخې ته راځي، خو په مجموعي توګه مونږ دا نتیجه اخذ کولی شو چې هغه وخت د

پښتنو شاعرانو په ذهن کښې تش د پېرنګي شړل بنيادي مقصد ؤ. دوي سره دا ادراک يا دغه دانش ښېخي نۀ ؤ چې پېرنګی چې د دې خاورې نه ووځي، نو څۀ داسې نقوش به پرېږدي چې پښتنو ته به بيا هم د يو کېدو موقع په لاس نۀ ورځي. ځکه د تقسيم نه وړاندې شاعرۍ کښې دغه پلو ډېره توجه و نۀ کړې شوه. فضل محمود مخفي، خادم محمد اکبر، فضل احمد غر او عبدالخالق خليق په شاعرۍ کښې څۀ اشارې موندل کېږي چې يا خو يې د پښتنو د يو کېدو ارمان لرلی دی او يا يې د پښتنو د خاورې جغرافيايي حدود پکښې په ګوته کړي دي.

د هندوستان د تقسيم نه پس ته د پښتونستان مسئلې په پښتو شاعرۍ کښې لږ شدت وموندو، خو په باقاعده توګه د تحريک شکل يې بيا هم وانۀ خستو، نو ځکه يې په ادب کښې هم د تحريک صورت اختيار نۀ کړو. البته دغي تصور په انفرادي توګه په شاعرۍ کښې سر راپورته کړو. دلته د څو شاعرانو حوالې د نمونې په توګه وړاندې کوو:

"خېر دی زۀ دې نۀ يم خو زما پښتونستان دې وي
خېر دې زۀ دې نۀ يم خو زما دغه بوستان دې وي
زۀ دې سرو لمبو کښې شم ستي زما نشان دې وی
تن مې ترې لوګی او سپې.لنی شه خپل جهان دې وي
خپله قافله مې چې روانه ده، روان دې وي
ماته په قدم قدم اغزي دې وي زوزان دې وی
ځول دې وي ږل.ۍ دې وي سيلۍ دې وي طوفان دې وي
سترګې جنګوم د دې تندرونو قافلو سره
زۀ پښتون زلمی يم ځکه خوښ يمه زلمو سره" (19)

"زما د بابا کور او ورور به خدای کړه يو صلا شي
د وينو په دې ډنډ کښې به يو نوی ګل پيدا شي"(20)

"د ستم د ختمولو منصوبې له
شاه زلمو د نوي کهول کړی صلا ده
په هر کور د هر پښتون کښې داسې اورم
د يو سترې پښتونخوا شوې بنا ده" (21)

خو د افغانستان د انقلاب او بیا د انقلاب د ناکامۍ پېښې دغه تصور یو ځل بیا په شا وتمبولو او د شلمې پېړۍ تر اخره پورې دغه تصور تش د یو خوب نه سېوا بل هیڅ پاتې نۀ شو. البته په افغانستان کښې د اوسني جمهوري پروسې د شروع کېدو او هلته د استحکام سره یو ځل بیا دغه تصور په سیاسي میدان کښې سر راپورته کړو چې په نوې نوزې شاعرۍ کښې یې نمونې په ګوتو راځي.

د شلمې پېړۍ پښتو شاعري بین الاقوامي مسئلو په څۀ نه څۀ توګه متاثره کړې ده. دا مسئلې د نړۍ د بېلا بېلو قامونو د ازادۍ په مبارزو پورې اړه لري. د جدید قامیت دا تقاضه ده چې د نړۍ د محکومو قامیتونو په مبارزه کښې به هم ځان په سیاسي او فکري توګه ورګډول وي. په دغه ترڅ کښې تر ټولو د مخه د وېت نام مسئله ده چې د ازادۍ د مبارزې په دوران کښې د نړیوال سیاست او ادب موضوع وګرځېده.

وېت نام د خپلې ازادۍ جنګ د ۱۹۴۵ء د دویم نړیوال جنګ سره راشروع کړې دی او په مزه مزه یې دې جنګ ته دوام ورکړی ؤ. ولې په سرکاري ډول دا جنګ د ۱۹۵۴ نه تر ۱۹۷۳ء پورې ګڼل کېږي. په دغه دوران کښې ټوله سرمایه دارانه نړۍ د وېت نام د ازادۍ د جنګ په مخالفت کښې اودرېدله او بل خوا د وېت نام اولس، د سوېت یونین فوځي او مالي کومک او د ګړدې نړۍ د ازادي خوښو اولسونو، نظریاتي شاعرانو، ادیبانو او دانشورانو مرسته وه چې اختتام یې دا شو چې د سرمایې خاوندانو ماتې وخوړه او وېت نامي اولس ګټه ترلاسه کړه. پښتو ادب کښې د وېت نامي اولس دغه غېرت او حریت ته د خراج تحسین د وړاندې کولو په لړ کښې یو شمېر شاعرانو نظمونه لیکلي دي.

پښتو کښې دغه مسئلې ته په نظریاتي بنیادونو وکتل شول. ټولو مترقي او قام پرسته شاعرانو په دغه غرض د وېت نام د مبارزینو د پاره نظمونه ولیکل او خراج یې ورته وړاندې کړو چې دوي په خپل وطن کښې د هم دغسې مسئلو او مبارزو سره مخ وو.

د الجزایر د مسئلې حال هم دغه دی چې په نړیواله توګه یې د قام پرستانو او مترقي خلقو توجه ځان ته راواړوله. پښتو کښې یو شمېر شاعرانو د الجزایر په مسئله نظمونه لیکلي دي او د دوي عزم او استقلال یې ستائیلی دی.

فلسطین او اسرائیل مسئلې ته یې خالص په دیني او مذهبي تناظر کښې کتلي دي. فلسطین کښې چونکې د مسلمانانو یو شمېر مقدسات دي، نو په دغه حواله ورته مذهبي رنګ ورکړی شوی دی. پښتو شاعرۍ کښې د فلسطین موضوع هم ځان ځای کړی دی.

دارنګې د کشمیر مسئله ده چې د دوه قامي نظریې یو تسلسل په رنګ د پښتو شاعرانو وړاندې کړې ده.

د شلمې پېړۍ د پښتو د شاعرۍ اخرنی سیاسي ماخذ په توګه د افغانستان غمیزه مخې ته راځي. دا مسئله د ټولو پښتنو د پاره دومره د دړد سوب وګرځېده چې دړد او خوږ یې لا تر ننه پورې د پښتون د وجود په اندام اندام کښې محسوسېږي. د افغانستان ستونزه د کال ۱۹۷۸ء د نورمحمد تره کښې د مترقي انقلاب نه پس ته رامنځ ته شوه. دا انقلاب چونکې په نظریاتي بنیادونو شوی وه، نو ځکه د یوې ډلې مرسته سوېټ یونین په غاړه واخسته او د بلې ډلې د مرستې ذمه امریکې واخسته. سوېټ یونین او په نړۍ کښې د اشتراکي نظام پلویانو دا د مزدورانو انقلاب وبللو او بل خوا د سرمایې د خاوندانو اتحادیانو دې ته د ظلم او جبر نوم ورکړو او د فرد د ازادۍ په ضد یې وبللو او په افغانستان یې نېغ په نېغه د سوېټ یونین د قبضې سره وتړلو. دویمې ډلې د کېپیټلزم د نظریې ترمخه د انقلاب د لارې نیولو د پاره جهادي تنظیمونه جوړ کړل. دارنګې د افغانستان د ننه یوه نظریاتي جګړه پیل شوه. ځکه په دا موضوع تخلیق شوې شاعري په دوو نورو نومونو کښې سره وېشل کېږي، یعني جهادي شاعري او مترقي قام پرسته شاعري.

د افغانستان د دې شخړې په اړه دلته د حوالو ضرورت نه بغېر په دعوٰی سره وئیلی شو چې که دا موضوع د نن پښتو شاعرۍ یا د پښتو ادب نه وویستله شي، نو هیڅ به هم پکښې پاتې نۀ شي. د افغانستان په اړه د دواړو خواوو (جهادي او مترقي) نه ښه ډېره شاعري شوې ده او لا جاري ده. ځکه چې د دغې شخړې لا تراوسه اختتام نۀ دی شوی، نو ځکه پرې د شاعرۍ د لیکلو رجحان هم کم شوی ښخي نۀ دی، بلکې لا نور زیاتېږي. البته یو بدلون دا راغلی دی چې د پښتو د هغو سنجیده شاعرانو توجه هم اوس ټول په ټوله د امن خوا ته راګرځېدلې ده. چې دا جنګ یې د اسلام جنګ بللو او د جهاد نامه یې ورکوله او

د دې پاره نظمونه لیکل یې عېن د ثواب کار بللو. نن د پښتو شاعران د دغه جنګ د مقصد او مرام نه خبر شوي دي. اوس د جهادي ډلې لیکونکیو شاعرانو ته هم دا احساس شوی دی چې دا خالص د دوو غټو طاقتونو ترمنځه جنګ ؤ چې اوس پکښې د سیمې ټول ملکونه خپل مفادات لټوي. نو ځکه دوي اوس دغه جنګ ته خالص د پښتون وژنې په نظر ګوري.

***

# حوالې

(1) اردو دائرۃ المعارف اسلامیہ، جلد ۱۱، بار ثانی، شعبہ اردو دائرۃ المعارف اسلامیہ، پنجاب یونیورسٹی لاہور، ۲۰۰۶، ص:۴۸۳

(2) چودھری، محمد اعظم، ڈاکٹر، سیاسیات: نظریات اور اصول، اظہار سنز لاہور، ایڈیشن سوم، ۱۹۹۱، ص:۲۲

(3) محمد سرور، ڈاکٹر، معارف سیاسیات، فرید بک پوائینٹ لاہور، ایڈیشن چہارم، ۱۹۸۸، ص:۶

(4) خوشحال خټک، ارمغان خوشحال، یونیورستي بک اېجنسي پېښور، دويم ځل ۲۰۰۹ء، مخ: ۳۸۱

(5) هم دغه کتاب، مخونه :۱۸- ۱۹

(6) هم دغه کتاب، مخ:۵۵

(7) جېمز ډارمستېټر، د پښتونخوا د شعر هار او بهار، پښتو ټولنه کابل، دريم چاپ کال ۱۳۵۶ء، مخ: ۲۳-۲۴

(8) عبدالغفار، زما ژوند او جدوجهد، دولتي مطبع کابل، کال ۱۳۶۲ه.، مخ: ۱۶۷

(9) خليق، عبدالخالق، زۀ او زما زمانه، اداره اشاعت سرحد پېښور، ۱۹۷۴ء، مخ: ۶۱

(10) طوفان، ولي محمد، غورځنګ، دبۍ، اماراتو پښتو ادبي ټولنه دبۍ، ۲۰۱۴، مخونه:۲۸

(11) اجمل خټک، د غيرت چغه، يونيورستي بک اېجنسي پېښور، ۲۰۱۲، مخ:۱۱۵

(12) سليم، سيف الرحمان، غزل، مشموله: ليکوال، جلد ۸، ګڼه ۸، مدير نورالبشر نويد، اګست ۱۹۹۸ء، مخ: ۲۴

(13) قلندرمومند، سباوون، دويم اېډيشن، ۱۹۸۸، پېښور، دور، مخ ۴۸

(14) خان، عبدالغني، خان، د غني کليات، کابل، د قومونو او قبايلو وزارت افغانستان کابل، ۱۹۸۵، مخونه:۲۵۸

(15) همېش خليل، (مرتب)، کاکاجي صنوبر حسېن مومند، سرايې نورنګ، پښتو ادبي مرکز، ۱۹۱ء، مخونه:۱۴

(16) **همېش خلیل**، (مولف)، پښتانۀ لیکوال، دارالتصنیف پېښور، اول ځل۱۹۵۸ء، مخ: ۱۰۰

(17) **اجمل خټک**، د غیرت چغه، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۲۰۱۲ء، مخ:۵۶-۵۷

(18) **مجذوب**، عبدالرحیم، کلیات (اول جلد)، بنو، پرمختګ بنو، ۲۰۱۳، مخ: ۸

(19) **طوفان**، ولي محمد، غورځنګ، دبۍ، اماراتو پښتو ادبي ټولنه دبۍ، ۲۰۱۴، مخ: ۱۶۴

(20) **اجمل خټک**، ژوند چغه، یونیورسټي بک ایجنسي پېښور، ۲۰۰۶ء، مخ:۱۶۳

(21) **همېش خلیل**، زما سندرې، دارلتصنیف پېښور، ۱۹۷۳ء، مخ:۴۷